# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


بسمل

۰۶ جولای ۲۰۱۱

## څوک مو له تیل څوک له کابله وژني
## ګناه مو څه موږ به ترکله وژني



ملا چرګک راوستي دېر قاتلان
هم مو له غرو هم له ځنګله وژني

دانسانیت دعوه کر تول راغلي
څوک مو لپاسه څوک له تله وژني

که دلستوني ماران اخوا پرېږدو
دا سکني مو هم پخپله وژني

په دواړوغاړو یو جایګیر دکرښې
دا خوا په یو اخوا په بله وژني

څوک چې خپل قام له حوسونو جارکړي
داسې به پرزي ځان سل ځله وژني

نه مو نیویارک نه مو لندن ویشتلی
دا نابللي مو بیا څله وژنـي

پښتونه څه لاس دې تور سپي څټلی
خناوران موبې اجله وژنـي

که بندوبس دپاڅون ونه کړو موږ
هر یو موزي به مو تر تله وژنـي

بسمله دا غوبل به څومره وي نور
څو به خپل ورونه یو تر بله وژنـي

څوک مو له تل څوک له کابله وژني
ګناه مو څه موږ به ترکله وژنـي

پورتنی شعر همدا اوس دشپې په یوه بجه دلر اوبر دعام وژني له دردہ ولیکل شو

۲۰۱۱/۰۷/۰۶ زکال